بسم الله الرحمن الرحيم

## دروژي معنی

روژه (الصيام )په لغت کي امساک ديوڅه نه ځان منع کولو ته وايي، او شرعا : دخوراک څښاک او دتږولو روژه ماتونکو شيانو نه د صبح صادق نه تر لمر پريوتلو پوري ځان ساتلو ته وايي

## دروژي ارکان

١- نيت ٢- دروژي ماتونکي شيانو نه ځان ساتل

## دروژي دنيت اقسام

١-دفرض روژي نيت: لازمي خبره ده چه دفرض روژي لپاره دشپي نه يعني د فجر نه مخکي نيت وکړي،اوکه د مياشتي دداخليدو نه که نيت وکړي ورله کافي دي،او دنيت ځاي زړه دي او لفظا په ژبه وييل بدعت دي. ٢- دنفلي روژي نيت: او دا دورځي هروخت کي کولي شي چه ترڅو يي داسي کار نه وي کړي چه روژه وربانددي ماتيږي ليکن اجر به يي دنيت کولو نه حساب کيږي.

## دروژي اقسام

١-واجب (درمضان روژه، کفاره، او نذر) ٢- نفلي روژه

## درمضان دروژي دواجب کيدلو شرطونه

١-اسلام ٢-عقل ٣-بلوغ٤-مقيم: مسافر باندي روژه نشته،او افضله داده چه که مشقت ورته نه وي نو روژه دي ونيسي،ځکه درسول الله صلی الله عليه وسلم دعمل نه هم ثابت دي او او ذمه هم وربانددي بري کيږي،او مکلف لپاره اساني هم وي،او درمضان دمياشتي فضيلت کي هم شامل شي،٥-صحت ٦-دحيض او نفاس نه پاکوالي.



## دروژي حالت کي مرض

مرض په دوه قسمه دي١- هغه چه دختميدلو اميد يي نه وي،اوپه دي کي عمررسيده دروژي نيولو نه عاجز کمزوري شامل دي،نو دي باندي روژه لازم نه ده بلکه دروژي په بدل کي به مسکين له روټۍ ورکوي،په داسي طريقه چه يا به دورځو برابر مسکينان راټول کړي او يو خت روټۍ يا د غرمي يا د ماښام روټۍ ورکړي، او يا به دورځو مطابق مسکينانو باندي روټۍ تقسيم کړي،هر مسکين له ربع صاع نبوي پيمانه باندي (يعني چه دنيم کيلو او(٠١) لس ګرامه بهترين وربشو په وزن برابراندازه ده)ورکړي. اوښه خبره ده که دي سره که دترکارۍ لپاره غوښه يا غوړي ورکړي. ورکړي شي ٢- هغه مرض چه ختميدلو اميد يي وي خو ليکن روژه نيولو کي ورته مشقت وي،او دي کي حائضه او نفاس والا زنانه او هغه زنانه چه ماشوم له پۍ ورکوي،او همدارنګه مسافر،نو کله چه صحت ښه شي مشقت ختم شي نو دروژي قضاء به راوړي څومره چه يي خوړلي وي،او که دتکليف مرض مشقت ختميدلو نه مخکي وفات شو نو ورنه ساقط کيږي.

## درمضان دمياشتي داخليدل په څه باندي ثابتيږي

درمضان د مياشتي داخليدل يا د مياشتي په ليدلو باندي او يا دشعبان دمياشتي ديرش ورځو پوره کيدلو باندي ثابتيږي.

## دروژي مفسدات(هغه کارونه چه روژه فاسدوي)

جهل(لاعلمي) هيره،او مجبور(اکراه) په دي کي معذور دي: ١-قصدا خوراک څښاک کول،او که د چانه هير وو او خوراک يي وکړو نو روژه يي صحيح ده، ٢-جماع،همبستري کوروالي کول:که چرته په روژه کي دورځي حالت کي وشي او فرض روژه وي. نو بيابه کفاره مغلظة به ورکوي، او هغه ديو غلام ازادول دي، او که چرته يي پيدا نه کړي نو بيا به ددوه مياشتو مسلسل روژه نيسي،او که دا هم نه شي کولي نو بيا به شپيته ٠٦ مسکينانو له روټۍ ورکوي، ٣-د مباشرت يا غاړه اخستلو يا ښکلولو وغيره په سبب دمني وتل.



٤-هغه څه چه دخوراک او څښاک په معنی کي وي لکه د طاقت انجکشن(ستن) لګول.اما کوم چه غير مغذي او طاقت والا نه وي په هغي روژه نه ماتيږي.٥-حجامه (ښکر) باندي وينه ويستل.اما لږه وينه دټيسټ وغيره لپاره روژه نه ماتوي،٦-قصدا القئ (کانګي)کول٧-دحيض او نفاس وينه جاري کيدل

## دروژي مستحبات

١-پيشمني (سحور)کول٢-پيشمني کي وروستوالي کول ٣-روژه ماتي کي تعجيل(مخکي والي) کول،٤-تازه دري (٣) رطب کجورو باندي روژه ماتول که نه وي په عامه کجوره باندي او که نه وي نو په اوبوباندي ،اوکه هيڅ هم پيدا نه کړي نو زړه کي دي دروژه ماتي نيت وکړي،٥-دروژي حالت کي او روژه ماتي کي دعاء کول ٦-صدقه ورکول. ٧-دشپي لمونځ کول٨-دقران تلاوت کول٩-عمره کول١٠-چه څوک ورته کنذل وکړي نو هغه ته دا وييل چه زه روژه يم١١-دقدر شپه لټول ٢١-اخري لس ورځو کي اعتکاف کول

## نفلي روژي

١-دشوال شپږ روژي دهغه چالپاره چه درمضان مياشت يي پوره کړي وي،او بهتره داده چه دا روژي پرله پسي ونيسي ٢-دحاجي نه علاوه نورو خلکو لپاره دعرفي دورځي روژه نيول٣-دعاشوراء روژه نيول سره د نهمي او يوولسمي ورځي.٤-ددوشنبي او پنجشبي(پيراو جمعرات) روژي نيول ٥-په هره مياشت کي دري ورځي روژي نيول او بهتره داده چه ايام البيض وي(٣١،٤١،٥١) ٦-يو ورځ روژه نيول يوه ورځ نه نيول٧-دمحرم دمياشتي چه دالله مياشت ده روژه نيول. ، ٨-دذي الحجي دمياشتي نهه روژۍ نيول، ٩-دشعبان دمياشتي روژي نيول ليکن پوره مياشت نه نيول.

## مکروه روژي
دجمعي هفتي ١ و داتوار(يکشنبي) ورځ په روژي سره يوائځي کول،او که چرته د کوم سبب په ورځ په دي ورځ روژه ونيول شي نو بيا مکروه نه ده لکه دعرفي روژه که په دي ورځو کي برابره شي.

## حرامه روژه
١-درجب مياشت روژي لپاره خاص کول٢-دشک دورځي روژه نيول اما که عادتا دچا روژه دي ورځي سره برابر شي نو څه وربانـدي نشته،٣-داخترونو په ورځ روژه نيول ۴-دايام التشريق درورځو روژي نيول مګرد هغه چا لپاره چه حج کي يي دقرباني استطاعت نه وي٥-ټول عمر روژه نيول

## زکات فطر(سرسايه)
په هغه مسلمان باندي واجب ده چه درمضان دمياشتي داخري ورځي لمر وربانـدي غروب شي .او داختر ورځ او شپه ورله خاص شوي ده،چه دخپل او خپل اولاد (اهل) د خوراک نه يعني (غله) ديو صاع په اندازه ورکړل شي، او د جنين(دحمل) نه ورکول مستحب دي

## دسرسايي دورکولو حکمت
دروژه دار د روژي لپاره پاکوالي دي(يعني که روژه کي لغو او بې ځايه خبري يي کړي وي) ٢-داختر په ورځ مسکينان سوال ته نه محتاجه کيږي.

## دسرسايي دورکولو وخت
١-داختر نه يو يا دوه ورځي مخکي اداء کول جائز دي ٢-داختر دلمانځه نه مخکي او دسهار لمونځ نه وروسته مستحب دي٣-داختر دلمونځ نه وروسته اداء کول حرام وخت دي



## دسرسايي اندازه (مقدار)
يوصاع د عامو خلکو دخوراک غلي نه،او دا په نقدو روپو باندي نه اداء کيږي،صاع دبهترين وربشو دوه کيلو او څلويښت ګرامه اندازه ده.

## داخترلمونځ
او دا په هر چا باندي فرض عين دي،او د اداء کولو وخت يي چه کله لمر ديوي نيزي(غشي) برابر اوچت شي ،او چه کله دالمونځ لاړشي نو قضايي نشته او ددي لمونځ په صحرا کي(دابادۍ نه بهر) کول سنت دي،او مسجد کي هم جائزدي،او ددي نه مخکي بايد دري کجوري وخوري او ځان صفا کړي .او په کومه لارچه تللي وي په هغي دي بيا نه راځي لاره دي بدله کړي،او ښايسته کپړي به واچوي،او داختر مبارکی به په دي کلماتوسره ورکوي تقبل الله منا ومنکم،اود اختر دشپي نه تر د اختر دورځي دلمرپريوتلو پوري او دلمونځونو نه وروسته تکبير مطلق وييل سنت دي،او هغه دادي: الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبرولله الحمد،او ددي لمونځ طريقه داده چه دوه رکعته به دخطبي نه مخکي وکړي اولني رکعت کي به دتکبير تحريمه نه وروسته شپږ تکبيرات وايي،او دويم رکعت کي به دتلاوت نه مخکي دقيام د تکبير نه بغير پنځه تکبيرات اوايي.

وصلی الله على النبي محمد وعلى آله وصحبه اجمعين



باللغة البشتو

دروژي احکام

# فقه الصيام



هيثم بن محمد جميل سرحان

المدرس بمعهد الحرم بالمسجد النبوي

www.alsarhaan.com